مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال: هانس کريستين اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۷/۱۵

# د سفر ملګرى

## (Rejsekammeraten)

## H.C. Andersen

### څلورمه برخه




جولا د سپینو زرو تاج پر سر له خپل بوټي تر بل بوټي پورې خيز اچاوه، تارونه به يې زغلول او زوړند پُل به يې ورنه جوړاوه او د مانيو په څير ځالي به يې اوبدلې. کله به چې پر دې تارونو زمرين ولويد، او بيا به چې د سپوږمۍ وړانګې وربانديې ولويدې، داسې برېښېدل لکه ځليدونکي شيشې.
دا کيســـه تر لمر خاته پورې روانه وه، کله چې لمر راوخوت، خزندې او نور واړه الوتونکي د ګلانو په غوټيو کې ننوتلي او باد هم د جولا جوړ کړي پلونه او له تارونو جوړې کړې مانۍ سره ګډوډ کړل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

یوهانس له ځنګله څخه نور راوتلی و چي ناڅاپه یې د شا له خوا د یو ناریینه غږ واورید. نا اشنا سړي ویل:
«اندیواله په کومي خوا روان یې؟»
یوهانس په ځواب کي ورته وویل:
«غواړم له نړۍ نه ګرد چاپیره راوګرزم.»
نا اشنا سړي وویل:
«زه هم غواړم دغسي یو سفر وکړم، ځنګه به وي چي ګډ سره ولاړ شو!»
یوهانس وویل:

«هوکي، دا ښه خبره ده.»

په دې ډول دوی خپل سفر پیل کړ. په لږ وخت کي سره صمیمي او ملګري شول. دوی دواړه ښه خلک وو او یوهانس ډیر ژر پوه شو چي ملګری یې تر ده ډیر هوښیار دی. هغه تقریباً نیمه نړۍ لیدلي وه، په دې خاطر د نړۍ په باب، په ډیرو شیانو پوهیده او کولای یې شول د هغو په هکله وغږیږي.
لمر خاته مهال تر یوې لویې ونې لاندې کیناستل چي دلداغی (سهارنی) وکړي. په همدې وخت کي یوه زړه ښځه راغله چي شا یې کړوپه شوې وه او د لکړې په مرسته روانه وه. یو څه خس یې چي په ځنګله کي ټول کړي او په شا کړي وو. د بوډۍ په لمن کي څو شنیلي او د ولي څو اوږدې لښتي له درې درملو ته ورته شنو څانګو سره اینبي وې. دوی ته چي نږدې شوه، ناڅاپه د یې پښه ونښته او ولویده، چیغي یې پورته شوې، د خوارکوټې پښه ماته شوې وه.
یوهانس غوښتل چي بوډۍ ډیر ژر د هغې کور ته ورسوي، خو ملګري یې وروسته له ښه دقت نه وویل:
«بیړه مه کوه!»
د سفر ملګري یې په خپله توبره کي یو مرهم درلود، هغه یې راویسته او وې ویل:
«اوس به یې زه پښه په دې مرهم غوړه کړم او داسي به ښه شي، لکه هیڅ چي پښه ماته شوې نه وي، داسي چي بیا په خپله کولای شي کور ته ولاړه شي، خو دا به هم په مقابل کي ما ته هغه درې دارو ته ورته شني څانګي ما ته راکوي چي په لمن کي یې تومبلي دي.»
زړې ښځي وویل:
«سمه ده!»
او هغه درې دارو ته ورته څانګي یې ورکړي. هغه سړي هم د بوډۍ پر پښه مرهم وسولاوه. زړه ښځه داسي روانه شوه چي له پخوا نه یې پښه لا ښه احساسوله. خو دا مرهم په درملتونه کي نه شو تر لاسه کیدای.
یوهانس خپل ملګری وپوښته:
«ته اوس په دې څانګو څه کوې؟»
ملګري یې وویل:
«دا درې ښایسته شني دارو ته ورته څانګي دي، یوه ورځ به مو په کار شي، زه هم یو عجیب سړی یم!»
بیا دوی مخ پر وړاندې ولاړل. یوهانس مخامخ کتل او وې ویل:
«هوا مخ په خرابیدو ده، وګوره څه توره پنده وریځ را روانه ده، کیدای شي درونډ باران ووریږي.»
د سفر ملګري یې وویل:
نه، هغه اوره نه دي او خوځیږي هم نه، هغه غرونه دي، هغه ستر او پرتمین غرونه دي، کله چي سرته ور وخیژې، څوکو ته یې ورشې؛ داسي انګیرې چي اورو ته ورختلی یې. آیا باور کولای شې! سبا به له هغه ځای نه ټوله نړۍ وګورو.»
خو هغه غرونه لکه ځنګه چي ښکاریدل، هغومره نږدې هم نه وو. یوه بله ورځ یې هم مزل وکړ، څو د غره لمنې ته وروړسیدل. هلته ونو سرونه هسک کړي وو، شا و خوا غټې تیږې لیدل کیدې، لکه یو ښار چي پروت وي. دا ډیر ستونزمن کار و چي سړی دې پاس لوړې څوکې ته ور وخیژي. دوی اړ وو چي د سبا ورځي مزله له پاره د چمتو کیدو په خاطر لږ دمه شي، د همدې له پاره یوه هلته یوه میلمستون ته ورغلل.
په میلمستون کي خلک ډیر وو، هلته راټول شوي وو او د هغه سړي په لیدلو بوخت وو چي د تارونو په وسیله یې د نانځکو د ګډا ننداره وړاندې کوله. هغه د خپلي ننداري خونه نوې پرانستې وه او خلک هم د ننداري له پاره ورته راټول وو.
په لومړي کتار کي یو پنډ ځواکمن قصاب ناست او غټ قوي سپي یې هم ترخنګه پروت و، سپی داسي و لکه چا ته چي خوله وراچوي، خو څه یې نه ویل او د ننداري په لیدلو بوخت و.
ډیر ژر کمیدي ننداره پیل شوه، ننداره په زړه پورې وه. بادشاه او ملکه پر ښکلي تخت باندې ناست وو، زرین تاجونه یې پر سرونو ایښودل شوي وو، قیمتي جامو یې اوږدې لمنې درلودې. د دروازو په څنډو کي لرګیني غټې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

ښایسته نانځکي درول شوي وې چې شیشه اي سترګي او غټ، غټ بریتونه یې درلودل او کرکی به یې د تازه هوا د راتلو په پار ترلي او خلاصولي.
ننداره داسي له خوښیو ډکه او خوندوره وه، چې هیڅ سترې کونکي صحنه یې نه درلوده. کله چې ملکه جګه شوه او غوښتل یې د سالون غولي ته ولاړه شي، خدای پوهیږي چې سپی په کوم چورت کې و، خو ناڅاپه یې خیز کړل او د ملکي نرۍ ملا یې په غاښ کړه او داسي یې کېښکوده چې د ماتیدو تقهاری یې واوریدل شو. قصاب نه شوای کولای چې خپل سپی راونیسي. دا داسي ډارونکي صحنه وه چې د ټولو حالت یې ور بدل او خراب کړ.
د ننداري وړاندي کونکی د دي صحني په لیدلو سره ډیر خوابدی او ناآرامه شو، ځکه چې د ده تر ټولو ښکلي او تر ټولو ظریفه نانځکه وحشي سپی ورته ماته کړې وه. ننداره بنده شوه او خلک ولاړل.
د یوهانس ملګری د ننداري وړاندي کونکي ته ورنږدي شو او ورته وې ویل چې دی کولای شي هغه نانځکه بیرته ورغوي او بیا یې له ځان سره لرلی ملهم د نانځکي پر ماتو شویو ځایونو وسولاوه او نانځکه له لومړني حالت نه هم لا ښه او روغه شوه، ان تر دې چې پرته له هغه چې څوک یې تارونه ښکته پورته کړي، هغي کولای شول وخوځیږي او خپل لاس پښي وښوروي.
نانځکه اوس د یو ژوندي انسان په څیر وه او کولای یې شوای د خپل بدن غړي خپله وخوځوي، یوازې یې خبرې نه شوای کولای. د ننداري وړاندي کونکی ډیر خوشاله شو چې نانځکه یې کولای شي خپله وګډیږي او ځان پورته، پورته واچوي، خو نورو نانځکو یې دا کار نه شو تر سره کولای.
نیمه شپه وه، ټول ویده وو، چې نا څاپه د آه او زګیرویو عجیب غږ جګ شو او دومره سره وغځید چې ټول یې له خوبه راویښ کړل. ننداره وړاندي کونکی هم راویښ شو. هغه داسي ګڼله چې غږ د نانځکو له صندوق نه راوزي، ځکه د نانځکو د صندوق خواته ورغی. د صندوق سر یې چې جګ کړ، وې لیدل چې همدا نانځکي دي چې په بد حالت سره زګیروي کوي او آه باسي. دا ځکه چې هغوی هم غوښتل د ملکي په څیر شي او د خپل بدن غړي خپله وخوځولی شي.
ملکه نانځکه په ګونډو شوه او خپل ښکلی تاج یې د یوهانس او د هغه د ملګري خوا ته داسي ونیو لکه په زاریو سره چې وایي:
«دا تاج در واخلئ او په بدل کې یې زما د میړه او زما د درباریانو په لاس او پښو هم مرهم وسولوئ!»
ننداره وړاندي کونکی ځان ټینګ نه شو کړای او په ژړا شو، بیا یې یوهانس او د هغه د سفر ملګري ته وویل:
«که زما ټولي نانځکي داسي ورغوي لکه ملکه نانځکه، هر څه چې وغواړئ، تاسو ته به یې درکړم.»
نا آشنا همسفر وویل چې د دې کار په بدل کې دی هیڅ هم نه غواړي، یوازې د ننداري د وړاندي کونکي هغه توره غواړي چې په ملا پورې یې ترلې ده. هغه هم ومنله او توره یې ورکړه.
د یوهانس ملګري هغه ملهم په نانځکو وسولاوه، نانځکو حرکت وکړ او خیزونه یې پیل کړل او داسي په ګډا سر شوې چې ټول ماشومان یې په ګډا راوستل. هغه شپه په میلمستون کې داسي شور بګټ جوړ شو چې راشه که یې ګورې!
سبا ته یوهانس او ملګري یې له ټولو سره مخه ښه وکړه او د صنوبر د ونو په منځ کې یې د لوړو غرونو خوا ته مخه کړه. هغوی دومره پاس وختل او جګ ولاړل چې لاندي د کلیسا برجونه دومره واړه ښکاریدل لکه په ونو کې چې میوه زوړنده وي. یوهانس په خپل ټول عمر کې دومره ښکلاوې یو ځای او په یوه وار سره نه وې لیدلي.
په هغي تازه هوا او شنه اسمان کې لمر ډیر ښه ځلیده او د شپنو د شپیلی زړه وړونکی غږ په دښتو او غرونو کې انګازې کولي. د یوهانس په سترګو کې اوښکي راپیدا شوې او بې اختیاره یې چغې کړې:
«خدای پر موږ څومره مهرباني کړې ده چې دا نړۍ یې له دې ښکلا او پرتم سره رامنځ ته کړې ده.»
د یوهانس د سفر ملګری غلی ولاړ و او د لرو، لرو ځایونو ننداره یې کوله، ناڅاپه یې له پاسه د یوه الوتونکي زړه وړونکی غږ واوریده. چې پاس یې وروکتل، که ګوري چې د ایلۍ له کورنی نه یو سپین قانس په آسمان کې څرخونه وهي او داسي غږ یې ایسته چې تر نن پورې هغو دواړو هسې غږ نه و اوریدلی، خو د الوتونکي غږ ورو، ورو ټیټیده. بیا سپین قانس خپل سر ټیټ ونیو او لاندې پسي راته، ترڅو په پای کې د دوی له پښو سره، په بې ځانه حالت راولویده.
د یوهان ملګري وویل:
«څه ښکلي او پرتمین وزرونه!
څومره لوی، لوی او سپین دي!
دا وزرونه په ریښتا چې ارزښتمن دي، زه هغه د ځان له پاره راجګوم. اوس دې ولیدل چې دا توره مې څنګه په کار شوه؟»
بیا یې د سترګو په رپ کې د الوتونکي دواړه وزرونه غوڅ کړل. بیا وخوځیدل، ولاړل، ولاړل، تر څو یو لوی ښار ته ورسیدل. دې ښار په سلګونو برجونه او دیوالونه درلودل. د ښار په منځ کې یوه پرتمینه ماڼۍ جوړه شوې وه چې زرین بامونه یې درلودل او د بادشاه د اوسیدو ځای و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له ښـار نه د باندې میلمسـتون و، دوی هلته ولاړل، څو ځانو ته نوې جامې برابرې کړي او بیا پاک او په نویو کالیو سمبال، د ښار واټونو کې قدم کیږدي.
د میلمستون خاوند هغوی ته وویل:
«د دې ښار بادشـاه ډېر ښـه سړی دی او تر نن پورې یې هیڅ چا ته آزار نه دی رسیدلی، خو لور یې ډېره بدجنسـه ده، هغه ډېره ښکلې جلۍ ده، خو څه ګټه؟ هغه داسې بد جنسه سحرګره ده چې تر اوسه ډېرو زړورو د هغې له پاره خپل ځان بایلودی دی.
هغې له عادي خلکو نه نیولې، بیا تر شـــاهزادګانو پورې، د دې وطن ټولو نارینه ګانو ته اجازه ورکړې چې د دې ریباري وکړي، خو شرط یې دا دی چې دوی باید د نجلۍ په سوچ باندې پوه شي او ووایي چې هغه په هماغې شیبې کې د څه شـي په باب فکر کوي. که څوک بریالي شـول، کولای شـي له شـهزادګۍ سره واده وکړي او د بادشـاه له مړینې وروسته د هغه ځایناستی شي  او د هغه وطن واکدار شي، او که یې و نه شوای کولای د جلۍ د هغې شیبې فکر باندې پوه شي، نو شهزادګۍ امر کوی چې هغه شخص په دار وځړوي او یا یې سرورباندې غوڅ کړي.
پلار یې دې حالت ته خواشـینی دی، خو نه شـي کولای خپله لور له کار نه لاس په سـر کړي، ځکه چې پخوا یې لا ژمنه کړې وه چې لور به د خپل میړه په ټاکلو کې خپلې خوښـــې ته پرېږدي. د همدې دلیل له مخې یې لور خلاص لاس لري چې هر څه یې زړه وغواړي، هغه به کوي.

د څلورمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ